# زیار

دزیارکښانو هنداره

انجمن اجتماعی صنف زحمتکشان افغانستان ۱۳۸۹

کــار، نان، لباس، خانه برای زحمتکشان

حمل ۱۳۹۶ | انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان | شماره بیست و پنجم


## په روانه ښکیلاکي جګړه کې هره ورځ دری ماشومان وژل کیږي

دا وطن ډیره موده کیږي چې د زیارکښانو وطن نه دی. دلته زیارکښان تر ټولو بد ژوند لري او په هر هغه هیواد کې چې زیارکښان بد ژوند ولري، هغه هیواد د زیارکښانو وطن کیدای نشي. دا وطن هغه وخت د زیارکښانو وطن کیږي چې واګی یې د زیارکښانو په لاس کې وي، دولت او واک د زیارکښانو په لاس کې وي، زیارکښان په برابره او هوسا ټولنه کې ژوند وکړي، ماشومان یې آرام، ښاد او خوشاله ژوند ولري، درس ووایي، ښوونځي ته لاړ شي، روغتیا ولري او خپل برخلیک جوړ کړای شي.

خو، اوس چې زمونږ په هیواد کې ښکیلاکي او ارتجاعي جګړه روانه ده، دا وطن د زیارکښانو لپاره د مرګ، وژلو، ویجاړیدنې، بربادۍ، بیوزلۍ، اسارت، فقر، کډوالۍ، سوالګرۍ، ناروغۍ او دربدرۍ وطن دی؛ خو د شتمنو سرمایه دارانو، تجارانو او فیوډالانو لپاره چې دولت جوړوي او یا له دولت څخه بهر د دولت او ښکیلاکي قوتونو په ملاتړ شتمنۍ ټولوي، وطن دی.

بهرني ښکیلاکګران، کورني واکمنان، جهادیان، طالبان او داعشیان او د دوې تر څنګ اینجو لرونکي او د سرکاری نهادونو او بنسټونو مالکان ټول د زیارکښانو دښمنان دي. په دې وطن کې د زیارکښانو لپاره هره ورځ کړاو او ربړه ډیریږي. د زیارکښانو ماشومان په بیرحمۍ وژل کیږي او کورنۍ یې په ویر کینول کیږي.




په افغانستان کې له ماشومانو څخه د ملاتړ نړیوال سازمان په خپل وروستي راپور کې کارلي دي چې ۲۰۱٦ کال د ماشومانو لپاره تر ټولو وژونکی کال و. په دغه کال کې په جګړه کې نژدې ۱۰۰۰ تنه ماشومان وژل شوي دي چې په ورځ کې په اوسط ډول د دری تنه ماشومانو د وژلو ښکارندوي کوي. د دې تر څنګ دا سرکاری سازمان وایي چې دمګړۍ په افغانستان کې یو میلیون او دوه سوه زره ماشومان د جدي ګواښونو او زیانونو سره مخامخ دي.

ص ۳

## تهیدستان هلمندی، در بدترین وضعیت روزگارشان را می گذرانند

هلمند، یکی از ولایات افغانستان است که پس از اشغال کشور ما بوسیله اشغالگران امریکایی –ناتویی بیشترین مصیبت و درد را کشیده است. انگلیس ها و امریکایی ها این ولایت را بی وقفه بمباران کرده اند، فاشیست های طالب از هیچ ستم و جنایت در حق مردم خودداری نکرده اند و متنفذین شریر و قوماندان های جهادی دار و ندار مردم را چور و چپاول کرده اند.

در حال حاضر، جنگ ارتجاعی با قساوت بی نظیر در این ولایت جریان دارد که زندگی زحمتکشان این ولایت بخصوص دهقانان فقیر و تهیدست هلمندی را دوزخی ساخته است. جنگ در این ولایت ضمن کشتار بی وقفه مردم ستمدیده این ولایت، سبب آوارگی خانواده ها نیز شده است که اکثریت مطلق این آوارگان را دهقانان تهیدست تشکیل می دهد.

بر اساس آمار رئیس مهاجرین ولایت هلمند در این ولایت ۱۱ هزار خانواده از مناطق شان آواره شده و به ولسوالی های نسبتاً امن پناه برده اند تا از کشتار امریکایی ها و طالبان نجات پیدا کنند. این آوارگی سبب شده است که این تهیدستان زحمتکش، تهیدست تر شوند و دار و ندار خود را از دست بدهند و منتظر کمک دولت سرمایه داران و خانانان و فیودال ها باقی بمانند، دولت ای که حمایت گران خارجی آن( امریکایی ها و ناتویی ها ) همین توده ها را بمبار می کنند و می کشند، چنانچه در آخرین رویداد، به اثر بمباری امریکایی ها در ولسوالی سنگین ولایت هلمند بیش از ۲۲ تن از توده ها ستمدیده کشته شدند.

چپاولگران حاکم، از آوارگی و درد و رنج مردم نیز سوداگری می کنند. آوارگان هلمندی به رسانه ها گفته اند که کمک های که به اینها صورت می گیرد به اینها بطور مکمل داده نمی شود و از طرف

ص ۳

## تاجران «ملی»، غارتگرانی که زحمتکشان را با رنج و فلاکت و بیماری نیست و نابود می کنند

تاجران که اصطلاح ملی را به دم خود بسته اند، غارتگران ای هستند که مردم ما را چور می کنند، اجناس بی کیفیت را به مردم می فروشند، کالاها و اجناس را به قیمت بسیار بلند به بازار عرضه می کنند، احتکار می کنند تا سودهای افسانه ای به جیب بزنند.

تاجران «ملی» غارتگران بی احساس و کرخت ای هستند که وجدان شان را در معاملات تجاری غارتگرانه از دست داده اند و با توريد کالاهای بی کیفیت، نه تنها که پول مردم را می دزدند، بلکه صحت و سلامتی مردم را نیز ضربه و لطمه می زنند. تاجران فعلی که روابط تنگاتنگ با قدرت حاکمه دارند، به شکلی از اشکال با مافیایی تجاری نیز روابط عمیق دارند. این انسان های غارتگر، بخصوص آنانی که در این شانزده سال توانسته اند میلیون ها دالر به جیب بزنند، در قدرت مهره هایی را با پول خود می خرند تا قراردادها و توريد مواد بی کیفیت آنانرا تائید نمایند.

توريد شماری از اجناس بی کیفیت سبب شده است که مردم ما با رنج و فلاکت و بیماری دست و پنجه نرم کنند و هر سال هزاران تن قربانی امراض مانند شکر، عدم فعالیت گرده، سرطان و ... شوند. تاجران، دوا، روغن و مواد غذایی را در ارتباط تنگاتنگ با سرمایه گذاران کشورهای همسایه و منطقه با کیفیت بسیار پایین و در حد هیچ تولید می کنند و وارد کشور می سازند و از اداره نورم و ستندرد تائیدی آنرا گرفته وارد بازارهای افغانستان

ص ۳

# خوارځواکي د زيارکښانو ماشومان ګوابښي

سعيدالرحمن



يرغلګران او ارتجاعي ځواکونه د زيارکښانو دښمنان دي. يرغلګران د ځايي ارتجاعي او مستبدو ځواکونو په ملتيا او مرسته غواړي چې بيوزله هيوادونه ولوټي او ولسونه يې وزبيښي. دا وخت د افغانستان تر څنګ، د سوريې، عراق، ليبيا، يمن، جنوبي سودان، نايجيريه او نورو هيوادونو ولسونه لوټي او ځپي. په دې هيوادونو کې ارتجاعي ځواکونو د يرغلګرانو سره لاس يوځای کړی او زيارکښان يې د ناورين سره مخامخ کړي دي. د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق (يونسيف) د ماشومانو په اړه په وروستي راپور کې ويلي دي چې دا وخت په ټوله نړۍ کې اوه نيم ميليونه ماشومان د سختې خوارځواکۍ سره مخامخ دي. د دې راپور پر بنسټ نژدې ۴۸ ميليونه ماشومان په داسې سيمو کې ژوند کوي چې په کې جګړه روانه ده او يا کړکيچنې سيمې دي. د ساري په توګه په يمن کې په هر ۱۰۰۰ ماشومانو کې ۶۳ تنه يې د پنځه کلنۍ مخکې مري.

افغانستان هم د نورو هيوادونو په شان د لوټمارو ښکيلاکګرانو لخوا تر تيري لاندې راغلی او ارتجاعي ځواکونه د امريکا او ناټو په مټ دلته واک چلوي او زيارکښان د نيستۍ کندې ته غورځوي. په زيارکښانو کې ماشومان او ميرمنې تر ټولو زياته قرباني ورکوي. په افغانستان کې ماشومان هم د خوارځواکۍ سره مخامخ دي چې د اوسنۍ ښکيلاکي او ارتجاعي جګړې يوه بدمرغه پايله ده.

نړيوال امپرياليزم چې ځينې مدني غلامان او رسنۍ يې «نړيوالې ټولنه» بولي، د زيارکښانو اصلي دښمنان دي. دوی د خپلو ګټو لپاره زيارکښان زبيښي او حتی غذايي او خوراکي مواد نابودي څو بيې يې راټيټې نشي او د دوی ګټې خوندي پاتې شي. سرمايه داره ټولنه چې له جګړې پرته نشي کولای ثروت او شتمنۍ تر لاسه کړي، تل هڅه کوي چې د جګړې اور بل او روښانه وساتي څو هيوادونه لوټ کړای شي. که چيرې سرمايه داران پر نړۍ واکمن نه وي، نه به ښکيلاک او تجاوز او تيری وي او نه به هم لوټ او تالان او چور و چپاول او نه هم بيوزلي، نيستي، فقر او خوارځواکي يوه ناوړه پديده ده چې څرنګه چې وويل شول د ستمګرانو د ستم او چپاولګرۍ له امله رامنځته کيږي او تر هغه چې ستم او ستمګري وي، د ماشومانو خوارځواکي به هم وي، ځکه چې

ص ۳

★

# ژمی، بيوزلي او د زيارکښانو رنځونه او مړينه

ژمی رارسيدلی او هوا ورځ تر بلې يخيږي. که څه هم زيارکښان په نورو فصلونو کې هم د کړاونو او رنځونو ژوند تيروي، خو په ژمي کې د زيارکښانو کړاونه او رنځونه زياتيږي او حتی د ژمي يخه هوا او واوره د زيارکښانو د مړينې لامل کيږي. د رسنيو د راپور له مخې يوازې د جوزجان ولايت په زراب ولسوالۍ کې ۴۷ تنه د يخې هوا او د واورو له کبله مړه شوي دي. څه چې ښکاره دي هغه دا دي چې دا ۴۷ تنه ټول هغه بيوزله زيارکښان وو چې د ګرموالي لپاره د سون مواد يې نلرل او يا هم د لارو د تړلو له امله يې غذايي موادو ته لاسرسی نه درلود. که څه هم رسنۍ يوازې په جوزجان ولايت کې د يخې هوا له کبله د ۴۷ زيارکښانو د مړينې راپورونه ورکوي خو پيښو ته د رسيدلو په چارو کې د دولت وزارت وايي چې په ۱۷ ولايتونو کې ۳۳ تنه وژل شوي او ۲۴ تنه نور ټپيان شوي او ۳۳ کورونه د واورو له امله ړنګ شوي دي. څه چې مهم دي دا دي چې هر ژمی زمونږ زيارکښه ورونه او خويندې او د هغوی ماشومان په ډيرو کړاونو او رنځونو اخته کوي او ان خپل ژوند له لاسه ورکوي. د بم اچونکو بهرنيانو او د هغوی د کورنيو مريبانو او همدا ډول د فاشيستو طالبانو او داعشيانو تر څنګ، يخه هوا هغه طبيعي پيښه ده چې زيارکښان ګواښي او په کړاونو يې اخته کوي. خو بايد يادونه وشي چې د زيارکښانو د کورونو ړنګيدل، د هغوی رنځيدل او د يخنې له کبله مړينه يوازې يوه طبيعي پيښه نشو ګڼلی. که له يوې خوا دا طبيعي پيښه ده، له بلې خوا په دې پيښه کې يو طبقاتي څرک هم ليدل کيږي. که داسې نه وي، نو پوښتنه دا ده چې ولې شتمن لوټماران، چپاولګره تاجران او تالانماره فيوډالان په يخنۍ کې نه ځوريږي، کورونه يې نه ړنګيږي، د غذايي موادو له کمبود سره نه مخامخ کيږي او د يخنۍ له کبله نه مري. سمه ده چې د طبيعي پيښو واقع کيدل د انسان په لاس کې نه دي، خو د هغوی سره مقابله او تر يوې کچې پورې دا پيښې مهارول او کنټرول د انسان په لاس کې دي. که چيرې انسانان بيوزله ونه اوسي او ټول برابر ژوند ولري، يعنې ټول انسانان د ژوندانه لپاره پياوړي کورونه ولري نو واوره يې نشي کولای چې ړنګ يې کړي، که چيرې ټول انسانان د ګرمولو کافي او اړين وسايل ولري نو يخنې نشي کولای هغوی ووژني، که چيرې انسان په لاس کې پرمختللی ابزار او وسايل ولري نه واوره نشي کولای لارې ورته بندې کړي او که چيرې انسان کافي غذايي مواد ولري نو هيڅکله د ولږې له امله نه مړه کيږي.

ص ۳

# فرهنگ سرمایه داران...

می بینیم که چگونه سرمایه داران جهانی در همیاری با سرمایه داران داخلی، تاجران و فئودالان علیه زحمتکشان در جبهه های گوناگون از جمله جبهه فرهنگی می جنگند رسانه های افغانستان از طریق سفارت های خارجی تمویل می گردند تا منافع کشورهای متجاوز را تامین کنند، به نفاق میان زحمتکشان دامن می زنند، سیاست های استعماری و اشغالگرانه را تئوریزه می کنند

در پارلمان کشور ما غارتگران، سرمایه داران، تاجران، متنفذین شریر و فئودالان جا خوش کرده اند تا منافع خارجی ها را تامین و علیه منافع زحمتکشان قانون گذاری نمایند و توده های مردم فرهنگ غارتگرانه ایشان را به خوبی می بینند که چگونه عقب مانده، ارتجاعی و ظالمانه عمل می کند. فرهنگ پولیس ما به شدت ارتجاعی است، پولیس ها علیه زحمتکشان عمل می کنند، کارگران روزمزد را لت و کوب می کنند، کراچی وان ها را با لگد می زنند و دشنام می دهند. قضا و نهادهای عدلی در خدمت زرداران و زورداران است و با زحمتکشان تهیدست و فقیر و تگندست شدیداً حقیرانه برخورد می کند. فرهنگ حاکم در کشور ما فرهنگ غارتگری، چپاولگری، ثروت اندوزی، رشوت، اختطاف قاچاق، کشت و کشتار، فساد و ارتشا است، فرهنگی که بر اقتصاد غارتگرانه سرمایه داری و از آن بدتر اقتصاد غارتگران اشغالگر بنا شده است.. این فرهنگ، به شدت تخدیر کننده است و ظالمانه علیه زحمتکشان عمل می کند. فرهنگ زحمتکشان، فرهنگ مترقی و پیشرونده است که بنیاد آنرا همبستگی، همدردی، برابری، رفاه عاطفه، صمیمت، احترام متقابل و.. می سازد. ما زحمتکشان فرهنگ مترقی و پیشرونده داریم، بر آن باید افتخار کنیم و بیش از پیش برای غنا آن بکوشیم.

(اقبال)

زيار

صاحب امتیاز:

انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان

ایمیل: zayar.af@gmail.com

وب لاگ: www.zayarafg.blogspot.com

حساب بانکی بانک ملی: ۱۰۰۱۳۳۴۰۳۲۹۶۲

### تهیدستان نیمروز، ...

استبداد، ستمگری و جنایت غارتگران سبب شده است که بیشتر از نیم نفوس این ولایت فقیر و نادار از برکت سواد محروم بمانند.
زحمتکشان باید بدانند که فرستادن فرزندان شان به مکتب، برداشتن اولین گام برای رهایی از ستم و بربریت چپاولگران است. زیرا سواد سبب می شود که فرزندان زحمتکشان بتوانند برای بلند بردن آگاهی و شعور سیاسی شان کار کند، راه ها نجات شان را جستجو نمایند و سایر زحمتکشان را آگاه بسازند و با همبستگی برای رهایی از ستمگری کار و تلاش نمایند. زحمتکشان باید بدانند که برای نجات از بربریت و ستم غارتگران، سواد به تنهایی کافی نیست. در کنار سود، آگاهی و تعهد برای نجات از هر نوع ظلم و ستم می تواند در راستای رهایی زحمتکشان از هر نوع جنایت و ستم و سیادت موثر واقع شود. مکتب رفتن، اولین گام برای آگاهی زحمتکشان است، پس بر ما زحمتکشان است که فرزندان خود را به مکتب بفرستیم تا با سواد شوند و بتوانند راه های نجات شان را از غارتگران پیدا کرده، آزاده و سرفراز زندگی کنند. ★

### خوا رځواکي د زيارکښانو...

ستمګران او تيري کوونکي چې د لوټمارو طبقو ګټي خوندي کوي د ولسونو د لوټلو او بيوزله کولو له لارې کولای شي شتمنی تر لاسه کړي. همدا هم دی چې همدا اوس اته شتمن کسان په نړۍ کې د نيمايی وګړو په اندازه شتمنی لري.
خوارځواکي د بيوزلی له امله رامنځته کيږي. زيارکښان تر هغه چې بيوزله وي، د نورو بلاګانو تر څنګ به يې ماشومان د خوارځواکه له امله هم رنځيږي. د زيارکښانو ماشومان هغه وخت د خوارځواکۍ په ګډون د بيلابيلو بلاګانو څخه نجات موندلی شي چې د هغه لوټمارانو په ضد په يووالي او پيوستون مبارزه وکړي چې لامل کيږي دوی په نيستی کې ژوند وکړي، ماشومان يې خوارځواکي وګوابني او له هوساينه پرته په کړيدلی او رنځمن ژوند ولري. ★

### ژمی، بيوزلي...

دا و خت د ښکيلاک تر څنګ اجتماعي نابرابري يا هغه څه چې ورته ځيني طبقاتي توپير وايي، واکمن دی. ځکه چې بم اچونکي ښکيلاکګران د شتمو او سرمايه دارو طبقاتو په مرسته کولای شي زمونږ هيواد په خپل اسارت کې ولري نو د دې لپاره کوښښ کوي چې د لوټمارو طبقو لپاره د لا شتمن کيدو زمينې چمتو او برابرې کړي، په مقابل کې زيارکښان د هرې ورځې په تيريدو ځپي او بيوزلې ته يې کاږي. همدا بيوزلي د نورو ناورينونو تر څنګ لامل کيږي چې زيارکښان په طبيعي پيښو کې ډېر رنځونه او کړاونه وګالي او ان مړه شي. هر کله چې زيارکښان وکړای شي په يوه برابره ټولنه کې ژوند وکړي، نو هغه وخت به وي چې نور به طبيعي پيښې کوروته ړنګ نکړي، زيارکښان به له ولږې سره مخامخ نشي او د يخنی له امله به مړه نشي. زيارکښان بايد د برابرې ټولنې د جوړولو لپاره کار او فعاليت و کړي.

شيرزاد

### تهیدستان هلمندی ...

چپاولگران چور می شوند و دوباره به فروش می رسند. پس از اشغال کشور ما و رونق سکتور اینجویی و بنیاد سازی، فقر توده های مردم ما وسیله ای برای چپاول اینجو داران و بنیاد سازان شده است. هیچ اینجویی و بنیادی، تاکید می شود، هیچ اینجویی و بنیادی در افغانستان نیست که چپاولگر، خاین، کثیف، دزد و خاین به توده های مردم نباشد. در افغانستان تا حال دیده نشده است که اینجوی مردمی وجود داشته باشد، اصلاً اینجو مردمی شده نمی تواند و مردم اینجویی شده تواند. فرهنگ چپاولگران حاکم، چور و چپاول است. این چپاولگران وضع رقت بار مردم را برای پروپوزل سازی و چپاول مورد استفاده قرار می دهند. اینها هزار بار شکر می کشند که توده ها در فقر و آوارگی و ستم بسر ببرند، تا آنها بتواند ظاهراً به نام کمک و حمایت از مردم ثروت بیاندوزند. از اینرو، ستمگران امریکایی — ناتویی، فاشیست های طالب و داعش، تنظیم های جهادی، حاکمان فعلی و اینجو داران همه و همه دشمنان مردم ما هستند و سبب شده اند که توده ها در بدترین وضعیت زندگی شان را بگذرانند.

سید محسن

### په روانه ښکيلاکي. ..

دا ماشومان چې ډيری يې په سړکونو او ورکشاپونو کې کار کوي، د تيري جنسي په ګډون د بيلابيلو زيانونو او ګواښونو سره مخام دی. پورته بدمرغی او ناورين او جنايت په ښکاره توګه مونږ دې پايلې ته رسوي چې اوسنی وطن د زيارکښانو لپاره وطن کيدای نشي. په هغه وطن کې چې ديرش کاله کيږي چې بيلابيل دولتونه او حکومتونه واکمن شوي او څه يې چې کړي د زيارکښانو بدمرغه کول او بيوزله کول دي، څرنګه د زيارکښانو لپاره وطن کيدای شي؟ څرنګه چې مو پورته وويل دا وطن هغه وخت د زيارکښانو لپاره وطن کيدای شي چې زيارکښان چې د ټولنې اکثريته برخه جوړوي، قدرت په خپل لاس کې ولري او د ناخوالی او رنځونو پرته سمسور هيواد جور کړي. ★

### د شتمنو لوټمارو ...

له منځه ځي چې بيوزلي له منځه لاړه شي او بيوزلي هغه وخت له منځه ځي چې برابري رامنځ ته شي؛ برابري د زيارکښانو په هاند، هڅه او مبارزې رامنځته کيدای شي، نو زيارکښان هغه وخت خپل برخليک بدلوی شي چې د خپلو حقوقو لپاره مبارزه وکړي او ستمګران او جنايتکاران په کرکې سره ورټي. ★

### تاجران «ملی»، غارتگرانی...

می سازند که خریداران آن اکثراً زحمتکشان کشور ما هستند.
تاجران مواد نفتی، یا بهتر است بگوییم مافیای مواد نفتی با وارد کردن تیل بی کیفیت که دارای فیصدی بالای سرب است، صحت و سلامتی اکثریت مردم افغانستان را با خطر روبرو ساخته اند. یکی از افزایش سطح بیماری سرطان در کشور ما تورید مواد نفتی با فیصدی بالا سرب است و در عین زمان تورید روغن های بی کیفیت.
وزارت صحت دولت سرمایه داران و تاجران و فیودالان که حمایت امریکایی ها و ناتویی ها را با خود دارد، اعلان کرده است که هر سال ۱۵ هزار تن در اثر بیماری سرطان جان می دهند.به اساس آمار وزارت صحت عامه، هر سال ۲۰۰۰۰ تن به سرطان مبتلا می شوند که این آمار در حال افزایش است.
وزارت صحت عامه رژیم غذایی غیر مناسب، اعتیاد به مواد مخدر و تنباکو، فقر و هوای آلوده را از عوامل مبتلا شدن به سرطان در میان مردم افغانستان می داند. مواد غذایی و روغن های بی کیفیت بوسیله تاجران صورت می گیرد، تورید مواد نفتی بی کیفیت که سبب آلودگی هوا می شود بوسیله تاجران صورت می گیرد، سرمایه گذاران با فابریکه های شان محیط را آلوده می سازند، فقر مردم هم ریشه در چپاول و غارت سرمایه داران و تاجران و فئودال ها دارد و در کنار این بم و بمبارد امریکایی ها نیز سبب آلودگی هوا می شود که بدون شک در افزایش بیماری سرطان نقش عمده دارد.
تا چپاولگران، سرمایه داران و اشغالگران حاکم هستند، در کنار قتل و قتل و اسارت و شکنجه، تورید مواد غذایی و نفتی و ادویه بی کیفیت، به حیث یک سونامی خاموش جان هزاران هموطن عزیز ما را می گیرد. نجات از هر نوع ستم و زجر و بدبختی، بدست خود زحمتکشان میسر است. اتحاد، همبستگی و مبارزه و کار برای رهایی از ستم و جنایت یگانه راهی است که باید زحمتکشان بر آن به پیش روند تا به آسودگی و رفاه و بهروزی برسند.

هارون

## فرهنگ سرمایه داران علیه زحمتکشان عمل می کند

نویسندگان، هنرمندان، شاعران و ... در دو جبهه قرار دارند یا در جبهه ستمگران هستند و یا در جبهه زحمتکشان. آنانی که در جبهه ستمگران قرار دارند برای منافع ستمگران کار می کنند و آنانی که در جبهه زحمتکشان قرار دارند، هنر، نوشته، شعر و ادبیات شان در خدمت منافع زحمتکشان می باشد
ماکسیم گورکی، یکی از نویسندگان برجسته، مشهور و نامدار جبهه زحمتکشان بود. او برای منافع زحمتکشان بوسیله قلم و کلمات جنگید و تا آخر عمر در جبهه زحمتکشان باقی ماند و داستان و نمایشنامه و هنر خود را در اختیار طبقات زحمتکش قرار داد
ماکسیم گورکی مدافع سرسخت زحمتکشان بود. او علیه فرهنگ سرمایه داران مبارزه می کرد و از منافع زحمتکشان دفاع می کرد. گورکی در مورد فرهنگ سرمایه داران با صراحت می نوشت. اینجا قسمتی از نوشته ماركسيم گورکی در مورد فرهنگ سرمایه داران نقل می شود.
گورکی می نویسد: فرهنگ آنان شامل یک رشته موسساتی است که کاملاً آزادانه عمل می کنند، با هدف دفاع و توجیه قدرت مطلق و نامحدود اقلیتی انگلی بر روی اکثریت زحمتکش، یعنی کارگران و دهقانان و خرده بورژواها، که با انجام کارهای کوچک و حقیر برای بورژوازی بزرگ زندگی می کند. فرهنگ آنان مرکب است از مکاتبی که در آن دروغ می گویند، کلیساهائی که در آن دروغ می گویند پارلمانی که در آن دروغ می گویند و بهتان می زنند. فرهنگ شان پولیس است که اجازه دارد با کارگران به خشونت رفتار کند و آنها را به قتل برساند. فرهنگ شان به مرتبه ای والا رسیده است — به جنگی دائمی و روزانه علیه کارگرانی که نمی خواهن چاپیده شوند، نمی خواهند گدائی کنند و نمی خواهند که زنان شان در سی سالگی پیرزنانی علیل شوند، فرزندان شان از گرسنگی بمیرند، دختران شان برای لقمه ای نان به فحشا روی آورند و نمی خواهند که جنایت — معلول بیکاری — در بین مردم شریف زحمتکش رخنه کند
در واقع ، زندگی فرهنگی دولت های بورژوا، عمدتاً محدود می شود به جنگ خیابانی بین پولیس و کارگران، ازدیاد میزان خودکشی در اثر گرسنگی، گسترش آفتابه دزدی ناشی از بیکاری، وو رشد فحشاء. اغراق در بین نیست: «پرونده پولیسی» همه روزنامه های سرمایه داری پر است از وقایعی از این دست. جهان «با فرهنگ» سرمایه داران در حالت جنگی مداوم با طبقه کارگر است، و این جنگ روز بروز خونین تر می شود. اقلیتی برای حقوق خود در دزدیدن اکثریت می جنگد و هیچ گاه مجازات نمی بیند —بطور مختصر این است کل زندگی فرهنگی امروزه دنیا
ماکسیم گورکی در سطرهای فوق به گونه بسیار خوب فرهنگ سرمایه داران را توضیح می دهد، فرهنگ ای که امروز ما در کشور اشغال شده خود می بینیم که چگونه ضد زحمتکشان عمل می کند و در خدمت سرمایه داران و چپاولگران قرار دارد. ص ۲

## د شتمنو لوټمارو جنایتونو، سوالگری په یو شغل بدله کړی ده

(شیرزاد)

هر څومره چې په یوې ټولنې کې د لږ شمیر خلکو شتمنۍ ډیریږي، بلې خوا ته ورسره بیوزلي زیاتیږي او ډیر شمیر خلک بیوزله کیږي. یوه مشهوره مقوله ده چې وايي ثروت نه ایجادیږي، بلکه د یو نه بل ته لیږدول کیږي. دا مقوله په څرګند دول ښکاره کوي چې د څو تنو شتمن کیدل پرته له لوټ څخه امکان نلري. دا لوټ د بیوزله او زیارکښو انسانانو څخه کیږي، د بیوزلو زیارکښانو انرژي لوټیږي، کور یې لوټیږي، ځمکه یې لوټیږي او که یو څه عاید هم ولري هغه هم شتمن او سوداګر د بیلابیلو لارو څخه ورڅخه لوټي.
د پانګوالو او نورو بډایو لا شتمن کیدل د نورو ناخوالو زیږیدو تر څنګ، ګدایی هم زیږوي. د امریکا او ناټو بمبارۍ، د جنایتکارو طالبانو او داعشیانو جنایتونه او د جهادی تنیظیمونو تیری، وژنه او مافیایي ستمونه د دې لامل شوي دي چې زمونږ یو شمیر خلک ګدایی او سوالګرۍ ته مخه کړي. ځکه دا هیوادوال، اکثرا له خپلو سیمو څخه کډوالۍ ته اړ شوي او ناچاره دي چې د ډوډۍ پیدا کولو لپاره سوالګري او ګدایي وکړي.
د کار د نشتون له امله، اوس سوالګري او ګدایي په یو شغل بدله شوی ده. رسنۍ راپور ورکوي چې په هرات کې ۷۰ سلنه سوالګرانو ته، سوالګري په یو شغل بدل شوی دی چې سهار وختي پیلیږي او تر ماښام ناوخته پورې ادامه مومي. د سوالګرانو اکثریت برخه هغه کډوال جوړوي، چې د بیلابیلو جنایتونو له امله یې خپلې سیمې پریښودي او هرات ښار ته راغلي دي چې په ډیر بد وضعیت کې ژوند کوي.
ځینې مافیایي ډلې چې د واکمنو شتمنو پانګوالو، تاجرانو او فیوډالان سره نږدې اړیکې لري او د همدیو لخوا یې ملاتړ کیږي، دا بیوزله خلک یې په واک کې اخیستي او په هغوې ګدایي کوي، یوه ناڅیزه برخه ګدایانو ته ورکوي او غوښینه برخه په خپلو جیبونو کې وهي.
دا بیرحمه او جنایتکاره ډله، حتی ماشومان هم نه پریږدي چې په آزاده توګه د خلکو څخه پیسې وغواړي، دوی ماشومان هم په خپل اختیار کې لري او په ډیره ناوړه توګه هغوې د نامشروع عاید لپاره کاروي.
په ګدایانو کې انجونې هم شاملې دي. د کوچنیو انجونو تر څنګ، پیغلې انجونې هم چې عمرونه یې تر ۱۸ کلونو پورې رسیږي، په هرات او نورو لویو ښارونو کې ګدایي کوي. دا انجونې د ځینو خلکو لخوا ځوریږي او ځینې وخت خو ځینې بیرحمه انسانان هڅه کوي له هغوې څخه ناوړه استفاده وکړي. دا انجونې چې د پیغلتوب په کلونو کې دي، د بیوزلۍ او فقر له امله نشي کولای ښوونځیو ته لاړې شي او درس ووايي.
بیوزلي د سوالګرۍ لامل دی، تر هغه چې په هیواد کې بیوزلي وي، تر هغه به د نورو ناخوالو تر څنګ سوالګري هم وي. سوالګري یوازې هغه مهال ص ۲

## تهیدستان نیمروز، قربانی استبداد و ستمگری و جنایت غارتگران

سمیر

ولایت نیمروز یکی از ولایات دوردست افغانستان است که اکثریت مطلق مردم آن مردم زحمتکش و تهیدست هستند که از لحاظ اقتصادی و اجتماعی در وضعیت نامطلوب بسر می برند. مردمان زحمتکش این ولایت در طول تاریخ بوسیله طبقات غارتگر، مورد بهره برداری قرار گرفته اند. خان ها، ارباب ها و فئودالان این ولایت به مردم تهیدست این ولایت اجازه نداده اند که مکتب بخوانند تا با سواد شوند و با باسواد شدن بتوانند آگاهی خود را بالا ببرند و راه های نجات خود را از این غارتگران انگلی و طفیلی پیدا کنند
بر اساس سروی اداره احصائیه مرکزی که در بخش های اقتصادی، اجتماعی و دموگرافی ولایت نیمروز انجام داده شده است، بیشتر از ۵۷ درصد مردم نیمروز به مکتب نرفته اند و اگر رفته هم باشند، حتی صنف اول را تمام نکرده اند که بدینصورت نیم بیشتر مردم این ولایت مطلق بی سواد هستند. بی سوادی مردم سبب شده است که این تهیدستان از طرف زمینداران که با قدرت و دولت حاکم هر دوره رابطه مستحکمی داشته اند، مورد بهره کشی قرار بگیرند.
در عین زمان سروی فوق الذکر نشان می دهد که ۵۸.۲ درصد نفوس جوان این ولایت هیچ کار نکرده اند و در واقعیت بیکار هستند. جوانان نیمروز که بخش اعظم آنان در ولسوالی های این ولایت زندگی می کنند، زمینه های کاری ندارند و اکثراً بیکار هستند. بیکاری سبب می شود که این کتله عظیم جوانان در فقر و تنگدستی بسر برده و اربابان منطقه از آنان به حیث نیروی بیگار کار بگیرند و یا به ایران رفته و رژیم جنایتکار آخوندی ایران آنان را مورد بهره کشی مضاعف قرار دهند.
در نیمروز، مثل اکثر ولایات کشور ما، آنانی حکم رانده اند که در مخالفت با زحمتکشان قرار داشته اند و در خدمت سلطنت و غارتگران خارجی و داخلی و همین بوده که توده های تهیدست نیمروزی را غارت و استثمار کرده اند. ص ۳